# نوی سبک او نوی ادب

د

Ketabton.com

ارواښاد استاد ګل پاچا الفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| سر لیك: | مخ: |
|---|---|
| دخدای قانون | ۱ |
| دکار فکر | ۱ـ۲ |
| زه خبرنه وم | ۲ |
| دخیرخاوند | ۳ |
| دیمرکراسی | ۳ـ۴ |
| عشق | ۴ |
| عمل | ۵ |
| دایمان ځای زړه دی او دی بې زړه دی | ۵ـ۶ |
| زموږباغ | ۶ |
| بې تمیزي | ۶ـ۷ |

| سر لیك: | مخ: |
|---|---|
| دظالم فلسفه | ۷ |
| دستور العمل | ۸ |
| اصلی غل | ۹ |
| دغلو منطق | ۹ـ۱۰ |
| دغلوډیوه | ۱۰ |
| دحاکم اشتباه | ۱۰ـ۱۱ |
| خه لري او خه نه لري؟ | ۱۱ |
| آمر او مامور | ۱۲ |
| توره پرده | ۱۲ـ۱۳ |
| د ژوند نغمه | ۱۳ |
| خوشحالی | ۱۳ـ۱۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# دخدای قانون

مونږ د خپلو کورونو له ځنګه په ډیره کښې ناست وو. له پاسه یولاروی راغی، د ونې ډډ ته یې ډډه ولګوله. ډوډۍ یې له ملا نه پرانیستله په مزه مزه یې له څه شي سره خوړله. مونږ ډیر وږي تږي وو، هغه ځان موړکړ او یخې اوبه یې وڅکلې مونږ روژه وو هغه بوزه وه، ځکه چې په مسافر باندې روژې نشته.

لاروی ویل: ماته د خوړلو اجازه شته تاسوته نشته.

ما ته خدای (ج) خواړه او اوبه رواکړیدی په تاسو یې ایسار کړیدی.

داد خدای قانون دی، ددی قانون په رمزاو معنی تاسی نه پوهیږئ.

د خدای کارونه بی حکمته نه دي.

تاسی ددغه عملی تعلیم په اصلی معنی بنه فکر وکړئ ! تاسې ولې وږي یاست او زه موړیم؟

زه په کار اومقصد پسې روان یم ناست نه یم زما په ژوند کښې دریدل نشته ځکه ما نه وږی کوي؟

تاسې ځای په ځای پراته یاست ستاسې حرکت لنډ دی ځکه یې وږي کړئ.

تاسې دخدای قانون منلی دی مګر پوه شوي پرې نه یاست. زه ددې دپاره راوګرزیدم چې تاسې پوه کړم او له لوږې نجات ومومئ.

پاڅیږئ، راون شئ اولری ځای په نظرکښې ونیسئ لوړه او تنده په توقف اوسکون کښې ده په حرکت کښې نشته.

# دکار فکر

دکورمیرمن ناروغه وه، د دوا پیسې نه وې، غله خلاصه وه ماشومان وږي وو، په کور کښې څه نه و پاتې چې پیسې پرې نغدې شي.

د کورخاوند یوه ورځ په پور پسې وګرځیده، دوستانو، اشنا یانو خپلوانو هیڅ ورنکړه.

بله ورځ په ګدایي پسې ووت دسخیانو او غنیانو له کورونو نه نا امیده راغی.

دریمه ورځ ورته دکار فکر پیداشو کارته یې ملا وتړله په کارپسې روان شو، کاریې وکړ په دغه ورځ یې کورته دوا او ډوډۍ راوړه د کورمیرمن او ماشومان ډیر خوشحاله شوه.

چې رنځور جوړشي او وږي موړشي له دېنه لویه خوشحالي بله نشته.

که څوک خوشحالي غواړي په کار کښې دې ولټوي.

د رنځو رانو علاج په کاربانډې کیږي.

چې وږي مړوي هغه کاردی.

چې سړی خوارشی اوخپلوان ترینه لاس واخلي.

چې څوک پور ورنه کړي او اشنایان نا اشنا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سخیان ورته ووایي خدای دې درکړي.
چې له هرچا او له هرې خوا نا امیده شي.
په دغه وخت کنبې کارپه کاریږي.
پلار خپل ځوی ته تریوه وخته ؤوډی ورکوي بیا یې له ځانه بېلوي.
چې ځوی لوی شو بیا مور هم شیدی نه ورکوي.
مګردکار مهرباني او احسان په هروخت کنبې وي.
دکاربرکت په هیچا کنبې نشته.
هغه چې د خان مزدوري کوي خان څه نه ورکوي کارېې ورکوي.
نو راشه! دکارسړی شه!
دکارسړی او د سردار سړی ډیر فرق لري.

# زه خبرنه وم

له خوبه راویښ شوم ډیر وری وم.
تا زما له سر لاندې ډوډی ایښی و، ما نه لیده په دسترخان کښې پټه وه.
ما ستا دسترخان و نه لټاوه د خلقو درګاه ته ودرېدم.
زه خبر نه وم چې ډوډی زما له پښولاندې ده او ماپردی کورته لاس نیولی دی.
زه ډیر وروسته پوه شوم چې د ځمکې دسترخان له ډوډی ډک دی او زه ګداېي کوم.
که زه پوه وای ما به د ډوډی دپاره ځانته دومره باداران نه پیداکول.
زه ستا د درګاه د خاورو په قدر پوه نشوم، زه نه وم خبر چې په دې خاوروکښې هرڅه شته.
هوا! تازمونږ دپاره ډیر څه پیداکړي دي مګرموږ نه یو پوه شوي.
لکه چې د ځمکې په مخ دترو دپاره ډکې وبالې او ډک سیندونه بهیږي د ورو دپاره هم په هره پوله ډوډی ایښې ده.
هلئ! زرکوئ ! دغه وږي فقیران خبر کړئ چه د خدای دسترخان ولټوي.
ټو ل نعمتونه همدغلته دي.
له خلقو سره بې له کاره اوبې له زیاره څه نشته.
تاسې د خدای په نامه له چانه څه مه غواړئ.
دخدای په نامه څه ورکړئ ځکه چه خدای تاسو ته هر څه درکړي دي که تاسې هرڅه ولټوئ په دغو خاوروکښې یې مومئ.
په لټولو هرڅه پیداکیږی.
که تاسې وزګار کښېنئ او هر څه له ځانه وغواړئ هرڅه شته، که ګداېې کوئ هیڅ نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخیرخاوند

هغه خپله غوا په پولو او لښتیوپووله.

دهقانان پوهیدل چه دی پردی کښت په غوا باندې نه خوري.

غوا به کله کله د خلقو کښت ته خو له اچوله مګر ده یې جلب نیوه.

دغه لړه زیان دقصد له مخې نه و ځکه چا څه نه ویل.

دغوا خاوند پوهیده چه په پولو او لښتیو باندې غوا ښه مړیږي.

که غوا خوښې وي او پردی شوتله خوري یا ټنډیري یا لنډی اوبوچی کورته راځي.

دده غوا کټاره نه وه، ډیرې ښې شودې یې کولې هرچابه ویل چه ډیر ه ښه غوا ده.

دغوا شودې او شړومبې هغه یواځې نه خوړلې دمېلمنو د مسافرو د همسایه ګانو برخه هم په کښې وه.

خلقو ویل: دا سړی ډیرښه سړی دی داکور د خیراو برکت کوردی.

هو! څوک چې خپل نفس دغسې وساتي او جلب یې خوښې نه کړي هغه دخیراو برکت خاوند دی.

د هغه ضرر چاته نه رسیږي خیر یې رسیږي.

د هغه غوا هم وړی نه پاته کیږي او شودې یې ډیرې دي.

# دیمرکراسي

په شفتالو کښې زړی دی په زړي کښې دشفتالو ونه ده، دغنمو په وړوکښې دانې شته په دانوکښې همدغسې وړي شته.
په چرګه کښې هګی ده په هګی کښې چرګه.
دغه یوه دانه پندانه چې ګورې تبل اوپلته دواړه لري او په حقیقت کښې بله ډیوه ده مګر ستا سترګې پټې دي دغه رڼا نه ویني.
ته نه یې خبر چې په یوه دانه اوپه یوه خاځکی کښې عالمونه پراته دي.
ته پخپله هم دغنم په دانه کښې ویده وې بیادې په یوه خاځکی او بوکښې لامبو وهله نن ځانته لوی سړی وایې اوپه لویه بیړی کښې ناست په لویو سیندونوکښې حرکت کوې.
څه شی چې ته وړوکی ګڼې هغه هم لوی دی.
یا هغه چې تاته لوی ښکاري هغه هم لوی ندی.
ته ونه لویه ګڼې هغه په یوه زړي کښې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاته زړی وروکی معلومیږي په هغه کښې غټه ونه ځای شویده د غه غټه هندوانه چې ګوري کا ل ته نشي پاتې کیدای اوعمریې ډیر لږدی.

دغه دهندوانې کوچنی زړی تاته هر کا ل تازه هندوانې درکوي.

دزړي قیمت له هندوانې نه لږ نه دی.

هندوانه په زړي کښې ساتلی ده که زړی ورک شو هندوانه ورکیږي.

که میندی اوپلرونه خپل واړه ماشومان ساتي واړه اوکوچني هم قام اوټبر ساتي.

نو راشه! هیڅ شی وروکې اوکوچنی مه ګڼه ځکه چې دلته غټ اوکوچنی لوی او وروکی نشته ټو ل برابر دي یواځې خدای لوی دی اوبس.

دنن ورځې دیموکراسي له همدغسې ژوري کتنې څخه پیداشوه او د ډیر دقت نتیجه ده.

# عشق

ته له ډیرقوت او ډیرو لښکروسره په دغه ښار راغلې.

ددې ښاره له خلقو سره دې ډیر جنګونه وکړه.

له دی خوا له هغې خوا ډیر خلق ووژ ل شوه، ډیرې وینې تویې شوې، ډیرې ککرې له پښو لاندې شوې.

ستا مخه چاونشوه نیولی.

تاد ډیرو مړو په سرونو پښې کېښودې او په ډیرقوت له خپلو لښکرو سره دلوی فاتح په شان ښارته راننوتلی.

ته ډیر په قاروې تاغوښتل چې ښار لوټ کړې او قتل عام جوړ کړې.

مګر داکار تا ونشو کړای.

ستا مخې ته دښار یوه ښکلې پیغله راغله ستا زړه یې ویوړ.

تا خپل زړه دهغې له پنجو خلاص نکړای شو او له خپل ټو ل قوت سره یوې پېغلې ته تسلیم شوې.

تا په ځان باندې د یو فاتح ګمان کاوه مګر فاتح بل څوک و.

ته نه وې خبر چې دننه په ښارکښې بل راز قوت موجود دی.

تا په ډیر زور اوقوت ځان اسیرکړ او د خپل اسارت لپاره دې ډیرې قربانۍ ورکړې.

که له تاسره دغه قوت نه وای اوشکست دې خوړلی وای نه اسیر کیدې، دعشق مقام ته رسیدل څه اسانه کار نه دی.

ته اوس دا ښار نشي لوټولی دا خلق نشې وژلی ځکه چه عشق اومحبت اجازه نه درکوي.

ته باید ددوئ خدمت وکړې او ددوئ خدمتګار شې.

هو! عشق له پادشاهانو نه خدمتګاران جوړولی شي.

دلته سکندر بل راز کیږي او دجهانګیری حرص نه پاته کیږي.

سنګر څوک نشي ماتولی دلته زور او قوت ماتیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عمل

هغه خپله امسا ټکو له اوبازارته راغی.

په سترګو بې څه نه لیدل خوپه نامه یې هرڅه پیژندل.

له ده نه خپلو ماشومانو وخکې غوښتې وې.

دی په وخکو پسې راغلی و.

دغسې ډیر ړانده بازارته راځې او څه اخلي.

دکانداران دهغوئ په سترګو کښې خاورې اچوي او ردي مالونه ورکوي.

ده ته یې هم له خاورو نه ډکې وخکې ورکړې او هر څه په کښې ګډوو.

هغه روان وو او ځولې یې له لاسه خوشې شوه.

د هغه ارزو له خاورو سره برابره شوه.

هغه دزمکې په سرلاس وګرزاوه او هر څه یې ټو ل کړه.

هغه نه پوهیده چه خپل کورته څه شی وړي؟

ده غوندې ډیر ړانده دلته راځې اوله ځانه سره څه وړي چې د وړلو نه دی.

هو! د ړندو عمل همدغسې وي.

## دایمان ځای زړه دی او دی بې زړه دی

چې ورو کی و له شیټکو اوپیریانو ډاریده.
چې لږ غوندې غټ شو د ملاصاحب له ډاره په سبق نه پوهیده په کورکښې د ادې ډارو د باندې د دادا.
اوس چه لوی دی دماسلانو ډار، دخان ډار، د ملک ډار، د حاکم ډار یې په زړه کښې ټینګ ځای نیولی دی.
په چول اوبیدیا کښې له غلو ډاریږي، په کوروکلی کښې له غلیمانو په ښار کښې له پولیسانو، دایمان ځای زړه دی او دی ډیر بې زړه دی.
د شپې په خوب کښې هم ډاریږي او خپکې یې نیسي.
لویه خدایه! په کوم زړه کښې چې دومره ویره وي، ستا ویره ډیره نه ځاییږي ستا خوف ته ډیر لږ ځای پاته کیږي.
که ستا ډار او د ظالمانو ډارپه یو زړه کښې یوشان موجودوي له دېنه لویه ګناه بله نشته.
کشکې دوئ یوازې له تا ډار یدلی اوستا د دښمنانو ډاریې په زړه کښې نه وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخلقو ډار ستا ویره په زړونوکښې کموي او ایمان ته زیان رسوي.
ستا ضعیفه بنده ګان یوازې له تانه نه ویریږي له نورو نه هم ویریږي. دوئ اوس دزورورو له ډاره حق نشي ویلی او ته دحق طرفدار یې.
ته په دروغو خپه کیږې دوئ له ډاره رښتیا نشي ویلی.
ستا ظلم نه دی خوښ دوئ له ویری دظالمانو خدمتونه اوصفتونه کوي.
هغه مسلمان چیرته دی چه یوازی له تا ډاریږی او بس.
ستا بنده باید د ډار بنده نه وي، دنمرود له اوره یې سترګه ونه سوزي، دفرعون په مقابل کښې مغلوب نشي، له مرګه ونه ویریږي.

# زموږ باغ

ددې باغ ونې ټولې زړې دي، ډډونه او ښاخونه یې وچ دي، په میوو کښې زښت ډیر فرق راغلی دی میوو لاخه چې سیوری هم نیم نه دی پاته، تازګي نشته، خیابانونه اوچمونه خراب دي، باغ ټول اغزو اوناکاره بوټو نیولی دی.
دګلانو یونیم بوټی که وي هغه دربو اوکبلو لاندې کړېدی دلته اوس طوطیان اوبلبلی نه راځي.پدی چمن کښې اوس ځاروی څري، دونو پاڼې په پسرلي کښې زیړې ښکاري.
داونې ټولې دوهلو دي.
ددې زړو ونو نیلو اوریښو ټوله ځمکه نیولې ده. د ځمکې قوت یې ډیرکم کړیدی مګر ځانګو اوښاخونو ته یې فایده ډیره لږه رسیږي داونې اوس بې ثمره او بې حاصله دي.
دباغ خاوند باید ټولې له بیخه وباسي. په ځای یې نوي نیالګي کیږدي. مونږ باید ډیر انتظار وکاږو چه دلته بیا سیوری اومیوه پیداشي او پدې باغ وبڼ کښې بیاتازګې ووینو.
که مالیار کا ل په کا ل چینجنې زړې ونې اېستلې اونوي نیالګي یې په ځای اېښودلی باغ به اوس هم هماغسې سمسورو.
دباغ عمر او د ونو عمربه یوشان نه و.
ونې به ورکېدې باغ به نه ورکیده.
اجتماعي ژوند به له فردي او شخصي ژوند نه نه قربانېده.
څوک چې زړې ونې په باغ کښې ساتي باغ به یې همدغسې وي.

# بې تمیزي

ډیرښه آس و، خو د بې تمیزو په لاس کښې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ک يې په قدر پوه نشوه باوغان پرې موږه کېښوده.

ديابو کاريې ترې واخيست.

هغه خبرنه و، چه دغسې آس دپادشاهانو په کمند کښې هم نشته اوقيمت يې ډير زيات دی.

چيرته چې علم او فراست نه وي خلق د آس او يابو فرق نشي کولی هلته عربي اسونه له مورولاندی زخميان شی او دخرو په غاړه دزرو کټوری وي.

په دغسې وخت کښې چې عمومي شعور ړوند وي اوخه نه وينی حافظ دخلقو دبې تميزۍ اعلان کوی:

اسپ تازی شده مجروح بزير پالان
طوق زرين همه درگردن خرمی بينم

# دظالم فلسفه

يوسړی دغليمانو په خوله شل کاله بندي شو.
هرچا به ويل حاکم ناروا وکړه، دومره ظلم هيڅوک نه کوي. دلته عدالت نشته، قانون ته څوک نه گوري، په بدو او رشوتونو هر څه کيږي مونږ له دې حاکم سره نور گذران نشوکولی.
بندی چې له زندان نه راووت د هنر اوکما ل نوم يې په وطن کښې خپورشو او ډير دکارسړی وخوت.
حاکم ويل: زه پوهيدم چې دی بې گناه دی، مگر که مادی نه وای بندي کړی، غليمانو واژه يا به ده څوک وژلی و، ده بې زندانه ژوند نشوکولی دده حيات په خطرکښې و، دده دغه هنراو کما ل دزندان برکت دی که دی پوه شي، ماله ده سره ډيرلوی احسان کړی دی. انسان پخپل خيروشر نه پوهيږي ډيرځله په ښو باندې دبدو گمان کوي.
که دی پوه شي بند يتو ب دده دپاره خير و، ما دده خير په زندان کښې ليده.
ډيرکارونه دي چې په ظاهر ه بد معلوميږي په حقيقت کښې ښه وی، د خلقو په نظرکښې ظلم وي چې فلسفه يې ولټوې رحم او د لسوزی وي.
ناپوهه خلق خير خواهان نه پيژني، په احسان نه پوهيږي، دوستي ورته دښمني ښکاري، په مدرسه باندی دزندان گمان کوی.
موږ ددوئ په خوشحالۍ پسې نه گرزو، ددوئ په خير پسې گرزو.
دوئ په خپل خيرنه پو هيږي او خپل خيرنشي سنجولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دستور العمل

خاص مجلس و، ټول غلي ناست وو، يوهم خبرنه و چې څه به وايې؟ دومره پوهيدل چې مطلب ډير مهم دی.

پس له څه قدر سکوت نه، هغه وويل: غيرله سرو او سپينو ډيرقيمت بهانه شته چې جواهر او الماس هغومره قيمت نه لری حکومت بايد هغه ډير ټينګ وساتي.

که هغه و، هرڅه شته، که هغه نه و هيڅ نشته، د حکومت اساس اوبنياد هماغه دی، بې له هغه حکومت نشي قايمېدلی.

دخزانو سانته هغومره ضرورنه ده، د هغه شی ساتل فرض دی.

دسياست په دنياکښې هيڅ شی هغومره قيمت نه لری.

په دې خبره ټو ل په فکر کښې شوه.

چا ګمان کاوه چې مراد عدالت دی حکومت بايد دغه شی ډير ټينګ وساتی اوله الماسو نه يې بهتر وګڼې.

د ځينو داخيا ل و، چې دمملکت استقلال له هرڅه نه زيات قيمت لری، يوسياستمداربايد د همدغه شي دساتلو ډير ټينګه توصيه وکړی.

څه نورو تصور کاوه چې مقصد دملت خوشحالي ده.

ديوه ديموکرات حکومت اساس همدغه دی جواهراو الماس دومره قيمت نه لري.

پس له يو څه وقفې هغه خپل مطلب ښکاره کړ.

هغه پو هيده چې زما په خبرو پوهېدل څه اسانه کارنه دی.

هغه وويل: دحکومت ډار بايد ډير ټينګ وساتل شي او حاکما ن له ډير تشدد نه کارواخلی، د حکومت ډار که دخلقو په سترګو کښې و خزانو ته څوک کاږه نشي کتلی له ګدامو نونه مړک هم غله نشي وړلی، سره او سپين که په ډاګ پراته وي څوک ورته نه ګوری. که دا ويره د خلقو په زړه کښې وه ظلم ته به عدالت وايي بې رحمي به رحم ګڼي. که ډار نه و او خلك سپين سترګی شو نو بيا ګذاره ډير مشکله ده.

تاسې کوښښ وکړئ چې دغه ډار د خلقو په زړونو اوسترګو کښې وساتئ او دا قيمت بها څيز ضايع نشي، ددی شي په قيمت باندې ښه پوه شئ!

دا هغه شی دی چې په وينو تويولو په کورونو ورانولو په مالونو لوټولو لاس ته راغلي دي. تاسی يې په آسانه مه ورکوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اصلي غل

ستا خوښه چه غل ورته واېې که دغلو مل؟ زه يې غل بولم.
ددې غله لاس قاضي يا  مفتي نشي پريکولی.
دده له لاسه هرڅه کيږي او ډيرقوت ورسره  دی.
حاکمان ده  ته څه نشي ويلی.
ډيپلوماتان زور په ده نه رسيږی.
ددې غله احترام قوماندان هم کوی.
داغل ډير زورور غل دی.
دده مخه څوک دورځی  هم نشي نيولی.
دی دسر کارپه ما ل کښې هم برخه  لري،  او په خزانه کښې شريک دی.
په ده باندی هيڅوک دعوه نشي کولی.
ده ته يواځی زه غل ويلی شم اوبس.
دا هغه غل دی چه له سترګونه رانجه نه پټوي سترګې پټوي.
غله پيسې پټوي.
دی غله پټوي، خيانتونه پټوي، ظلمونه پټوي.
اصلي غل همدغه دی.
ترڅو دی ورک نشي  غله نه ورکيږي.

# دغلو منطق

له ورځې نه شپه ښه ده او له رڼا نه  تورتم.
شپه دراحت دپاره ده، ورځ د زخمت دپاره.
دعيش او عشرت وخت شپه ده.
سازونه سرودونه په شپه کښې وي.
وصالونه په شپه کښې صورت نيسي.
ساقي اوشاهد دشپې ښه ښکاره کيږی.
بزم محفلونه د شپې وی.
دحيات اوبه په تورتم کښې دی.
په تياره کښې دستر او پرده پوشۍ راز پټ دی.
تاسې دتورتم په قدرنه پوهيږئ.
شپې لکه د خوبانو زلفې چې هرڅومره اوږدې وي هغو مره ښې وي.
په سپينو مخونو باندې بايد توري زلفې خورې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي او ښایسته میرمنې په تورو پردو کښې پټې ښې دي.
موږ او دوئ دپردې ترشاپه تیاره کښې هر څه کولی شو.
که زموږ له عملونو پرده لري شوه او هر چاپه رڼاکښې ولیدو مونږ ته به په نفرت وګوري.
زموږ دپاره شپه ډیره ښه ده.
تاسې کوښښ وکړئ چې دورځې هم تورتم او تیاره وي.
د وهم او خوف تیاره د ورځو رڼا کموي.
له ظلم سره ظلمت اوتورتم تړلی دی.
د ورو خلقو په سترګو باندې توره شپه وي.
دناپوهۍ تیاره له شپې نه کمه نه ده.
باید تل ترتله تیاره وي ځکه چې د حیات اوبه په تورتم کښې دی.

## دغلو ډیوه

سپوږمۍ ورکه شوه، شپه ډیره تیاره وه،غله په تورتم کښې راغله په کاله ننوتل.

دوئ خبرنه وچې ښه ښه مالونه چیرته ایښې دي، ځکه یې ډیوه ولګوله او ما ل یې لټاوه.

دکوروکلي خلقو چې رڼا ولیده راپا څېدل دغلو مخه یې ونیوله اوغله یې وپېژندل.

یوه وویل: له تورتم نه دغلو ډیوه هم ښه ده.

موږ غله په رڼا کښې ولیدل او راوبښ شو.

هو! موږ غلو راوبښ کړو.

زموږ په کورکښې غلو ډیوه ولګوله.

## دحاکم اشتباه

دومره ظلم او ستم، دومره تغافل او بې پروایي، دومره کبر او غرور.
داسې سخت زړه؟
بې رحمي او بې غوري انتها ته ورسیده.
دزړونو له ازاره هیڅ نه ویریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په ژړایې زړه نرم نشو.
زما فریادونه نه اوري.
زما عذرونه او زارۍ تاثیر نه لري.
زه په ډیرامید ورشم. زما په زړه کښې ډیرې خبرې وي.
زه وایم خپل ټو ل عرضونه به وکړم.
هغه لکه برېښنا د سترګو په رپ کښې له سترګو پنا شي.
له ډیرې استغنا راته ګوري هم نه.
عاشق دمعشوقې له لاسه دغه راز شکایتونه کول.
حاکم اشتباه وکړه، هغه یې سیاستاً بندي کړاو په سیاسی بندیانو کښې حساب شو.
آه دوطن مینان په دغسې خبرو زندان ته ځي.

## څه لري او څه نه لري؟

زمکې لري، ژرندې لري، قلاګانې لري.
راډیو نه لري، موټر نه لري چوکۍ نه لري.
سرلري، سترګې لري، زړه لري غوږونه لري.
ذوق نه لري، فکرنه لري شعور نه لري احساس نه لري.
ټغرونه لري، توشکونه لري، رخت خوابونه لري.
جارونه لري، څنډل نه لري، مینځل نه لري.
ګوخانې لري، طبیلې لري، تحویلخانې لري.
حمام نه لري تشنات نلري، صابون نه لري.
جوار لري، غنم لري، وریجې لري، پیسې لري.
خیرات نلري، زکوه نلري، صحت نلري، راحت نلري.
حرص لري، غم لري، سودا لري، ظلم لري،ناروا لري.
قناعت نلري، صبر نلري،فضلیت نلري، رحم نلري.
جهل لري، بخل لري، حسد لري، رقبیان لري، دښمنان لري.
علم نلري، اخلاق نلري، سواد نلري.
زامن لري، نمسي لري، لونې لري، ورونه لري.
مکتب نلري، معلم نلري، ملا نه لري، میرزانلري.
کبرلري، غرور لري، بدبیني لري بدګماني لري.
انصاف نلري، ضمیر نلري، وجدان نلري.
خوک؟
زموږ خان او زموږ ملک .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آمر اومامور

زه به  په تريو وچولی خبرې کوم.
ته به  لکه مجرم کوږ اورمېږ ولاړيې بلې صاحب به وايې.
زه به په هرکار کښې کارلرم.
ته به  زما په کار کښې دفکرکولو حق هم نه لرې.
زه به هيڅ نه کوم، ته به زما په امر هر څه کوې.
خدمت به ته کوې نام نيکی به زما وي.
کاربه زه ورانوم ملامت به ته يې.
څومره چې له مرګه ويرېږې له مانه به هم ډارېږې.
په هره اندازه چې له ژوند سره علاقه لرې له ماسره به يې هم لرې.
يوازې محبت مې نه دی په کار زماله خوفه بايد زړونه وربيږي.
زما په حضور کښې بې له عجز و نيازه هيڅ خدمت نه قبليږي.
که د عاجزۍ او دغلامۍ  خوی درسره و  هر راز خيانتو نه دې معافيږي.
پام کوه! چې پخپل خدمت اولياقت مغرور نشې.
هرکله چې راځې که هر څومره مهم کارونه دې کړی و لکه ګنهګار سر ټيټی راځه!
خپل خدمتونه مه يادوه!
په قانون استناد مه کوه!
ماته ځان  وسپاره زما په خوشحالۍ کښې  هر څه ولټوه ستا ترقي زما په اطاعت پورې تړلې ده.
ستاترفيع په همدغسې تواضع کښې پټه ده، ته خپل ځان او خپل حد وپيژنه.
ته ښه فکر وکړه چې څه  څوک يم او ته څوک يې!

# توره پرده

سپوږمۍ  چې په تورو وريځو کښې پټه شي په جهان باندې توره پرده غوړيږي او هرڅه په تورتم کښې ورک وي.

په دغسې توره  تياره کښې دانسان بينايي کارنه کوي، ړانده او دنظر خاوندان يو راز وي، ښه مخونه او بد مخونه فرق

نه لري دسپين او تورتميز نشي کيدای خپل او پردی نه پيژندل کيږي.

د حقيقت او جما ل رڼا له سپوږمۍ نه کمه نه ده.

ددې سپوږمۍ پټوالی په سترګو لا څه چې په زړونو هم تياره راولي که داتياره ورکه نشي او دغه رڼا له تورې  پردې

لاندې وي، د ذوق اونظر د خاوندانو شپه نه سبا کيږي.

دشعر او ادب دنيا نه  جوړيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر شعور او احساس نه وینبیږي.

دکار او حرکت اراده نه پیداکیږي.

# د ژوند نغمه

ټول غلي دي، هیڅوک څه نه وایي، دژوند نغمه غلې ده په دغسې خاموشۍ کښې ذوقونه مري، فکرونه محوه کیږي، نشاط او فرحت لکه وحشي مرغه له انسانانو نه تښتي.

زه غواړم ددغه سکوت طلسم مات کړم او خپله سرینده وغږوم داسرینده مادعشق له هیواد او دبلبلو له کوره راوړیده.

زما دسرینديې اواز ډیر خوږدی.

راشئ! کښینئ! زما نغمې واورئ!

زه نه غواړم چې ارزوګانې مړې او زوړنه ساړه وي.

زه د احساساتو او جذباتو دویښو لو لپاره راغلم.

دغه ده ما خپله سرینده راو اخیستله خپلې نغمې شروع کوم.

دا څه وشوه؟ له دی سرینديې نه خو هیڅ اواز نه پورته کیږي.

سرینده خو نه ده ماته، تارونه یې ټو ل په ځای دي.

داولې نه غږیږي له دینه لویه ضایعه بله نشته.

پوه شوم وپوهیدم داسرینده دبلبلو دکور ده او بې دګلونو له خوابل چیرته نه غږیږي.

داسرینده له عشق سره تعلق او ارتبا ط لري. تارونه یې هم په هماغه مقام پورې تړلي دي.

زه باید ګلزار ته ننووزم او دګلونو په حرم کښې دخپلې سرینديې آواز واورم.

زه باید دنرګس سترګې، دغوټيې خندا، دچنډړو لبتې، دسنبلو پریشانه زلفې وګورم او د حسن په ګلزار کښې خپله سرینده وغږوم. بې له دینه دغه خاموشي نه ورکیږي او خوشحالي نه پیداکیږي.

دا توري وریځې باید دلمر او سپوږمۍ له مخې لرې شي.

دبلبلانو پنجرې اوقفسونه باید مات شي.

د باغ تړلی ور باید بیرته شي چې خوشحالۍ راشي او ذوق وشعور سترګې وغړوي.

# خوشحالي

ستا دشجاعت اوشهامت ترانه ډیره خوږه ده.

داترانه ډیر مشهور شاعر جوړه کړه، سازندګانو ورته ډیرښه اهنګ پیداکړ اوس یې د وطن جونه او پیغلې په ډیر شوق وایي او ته یې په اوریدو ډیر خوشحاله یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول خلق تاته په ډیر قدر او احترام ګوري دا چه هلته یوځای بل ځای ستا دتورې او سر بازۍ صفتونه دي او ته له ډیرې خوشحالۍ په جامو کښې نه ځاییږې.

په هغه ورځ چې ته د جنګ او جګړې له میدانه بریالی راغلې ستاپه افتخار جشن ونیول شو په تا باندی له هرې خواګلونه شیندل کېده ستا په غاړه کښې خلقو ډګلو هارونه اچول ټولې سترګې تاته متوجه وې او په تا باندې خوشحالي وربدله. دا خوشحالۍ تاله هغه ځایه راوړه چې هلته ډګولیو او بمونو باران وریده او ژوند ډیر په خطرکښې و، ته به هر ساعت له مرګ سره مخامخ کیدې اوډیر لوی غم درسره و.

هو! دمشرانو خوشحالۍ په همدغسې مشکلاتو او خطراتو او غمونو کښې پټه وي او کو چنیان خوشې په خوشې خوشحاله وي.

## ((پای))

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**